**بسم الله الرحمن الرحیم**

## ناوړه او شریر امیران او له هغوی څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیزاري

**(ژباړه)**

له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«سَيَكُونُ مِنْ بَعْدِي أُمَرَاءُ يَغْشَاهُمْ غَوَاشٍ مِنَ النَّاسِ، فَمَنْ صَدَّقَهُمْ بِكَذِبِهِمْ، وَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ، فَأَنَا مِنْهُ بَرِيءٌ، وَهُوَ مِنِّي بَرِيءٌ، وَمَنْ لَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكَذِبِهِمْ، وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ، فَأَنَا مِنْهُ وَهُوَ مِنِّي»** (صحیح ابن حبان 285 )

**ژباړه:** *په راتلونکي کې به داسې حاکمان راشي چې درباریان به پرې راګرځېدلي وي، هر څوک چې هغوی ته ورشي، دروغ یې تصدیق کړي او د هغوی په ظلم کې ورسره ملګري شي، زه ترې بېزار یم او که څوک ورنه شي او ملګرتیا ورسره ونه کړي، هغه له ما څخه دی او زه له هغوی څخه یم.»*

دغه حدیث شریف د هغو حدیثونو له ډلې دی چې موږ ته په راتلونکي کې د پېښېدونکو پېښو او دا چې تر هغه وروسته باید څه وکړو، خبر راکوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته خبر راکوي چې داسې کسان واک ته رسېږي چې وړ یې نه دي، له الله سبحانه وتعالی څخه نه ډارېږي او رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې یو شمېر خلک به له دغو حکامو سره مرسته کوي، د هغوی ملتیا به کوي او کړنو ته به یې مشروعیت ورکوي. دغه خلک د سنتو پیروان نه دي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هدایت پر مسیر نه دي روان.

هغه څه ته چې پام ور اوړي، په دوو بېو د یادې کلمې تکرار دی، هغه دا چې دغه خلک د استقامت او پر حق د منګولو لګولو د نشت په دلیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پیروانو او مسلمانانو څخه نه دي. یوازې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې بېزار نه دی، بلکې هر څوک چې پیروي ترې کوي، له دغو خلکو څخه هم بېزار دي. دغه امر مسلمانانو ته د حکامو او د هغوی له لاسپوڅو څخه برائت ورکوي او مسلمانان باید هغه حکام او دننه کړی یې ونه مني چې د هغوی په ظلم کې ورسره مرسته کوي.

په بله برخه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته له هغوی سره د تعامل لارې چارې راښیي. باید هغه کړنې او خبرې یې چې د شرعې خلاف یې ترسره کوي، تصدیق نه کړو او له هغوی سره مرسته ونه کړو. د هغوی پر وړاندې باید ودرېږو او څومره چې وس لرو، د هغه منکر د بدلون لپاره چې ترسره کوي یې، و غندو او هغه کسان چې د یادو کسانو کړنې وغندي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هدایت مسیر په طی کولو سره به کوثر حوض ته لاړ شي.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې د حق کلمې په ویلو او د ظالمانو او د هغوی په غندلو کې له موږ سره مرسته وکړي. زموږ وضعیت داسې بدل کړي څنګه چې الله سبحانه وتعالی پرې راضي وي او موږ د هغو کسانو په ډله کې شامل کړي چې د حوض پر څنډه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره لیده‌کاته کوي. اللهم آمین.

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**